مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۳۹۸ د لیندۍ ۱۹مه | د ۲۰۱۹ د ډسمبر لسمه | ۴۷۷یمه ګڼه

# په افغانستان کې امریکایي ناکامه جګړه؛

## واشنګټن پوسټ: امریکایي ولسمشرانو د افغان جګړې په اړه خپل ملت ته دروغ ویلي


۳


ځېره
۴ مخ

## تتسو ناکامورا



له ناکامورا سره افغان کاریګرو کار کاوه، کله چې د مازیګر څلور بجې شوې، هغوی ویل، موږ نور ځو، ناکامورا ورته وویل، تاسې تر اوسه د پیسو لپاره کار کاوه، یو ساعت خو د وطن لپاره کار وکړئ. ما باید کار پرې اېښی وی چې خپل وطن مې نه دی.

## کرنې وزارت: افغانستان د وریجو د تولید له اړخه نږدې ٦٦ سلنه پر ځان بسیا شوی دی



د کرنې وزارت تازه سروې ښیي چې د تېر کال په پرتله، د وریجو سږنی حاصل نهه سلنه زیات شوی چې له امله یې هېواد د وریجو د تولید له اړخه نږدې ٦٦ سلنه پر ځان بسیا شوی. د دغه وزارت ویاند اکبر رستمي ویلي: «دغه سروې چې د کرنې وزارت او د احصایې او معلوماتو لوی ریاست له خوا په ګډه شوې، د وریجو د تولید د کچې معلومولو لپاره د «د شولې بوټو پرېکولو سروې پلي کول» او په هېواد کې د شولو د کروندو د کچې د معلومولو په پار د «GIS» او (Remote Sensing) له ټکنالوژۍ ګټه اخیستل شوې». هغه زیاته کړې، د دې سروې پر بنسټ روان کال د هېواد د ۱۸ ولایتونو په ۹۸ ولسوالیو کې شولې کرل شوې وې، چې په دغو ولایتونو کې د شولو د کرکیلې ټوله سیمه نږدې ۱۲۸ زرو هکټارو ته رسېږي چې تېر کال دا شمېره ۱۱٦ زره هکټاره وه.

### د سولې پرمختګونه او د بین الافغاني تفاهم جدي اړتیا

۲ مخ

### پر هند د احمدشاه بابا برید؛ استعمار که بشردوستانه مداخله؟

۲ مخ

### بیل ګېټس څنګه د رهبرۍ پر اسطوره بدل شو؟

۵ مخ

## سرچینې: د اسلامي حزب ډېر مشران د دغه ګوند له مشر ګلبدین حکمتیار سره پرېکون اعلانوي

سرچینې وایي چې په پارلماني چارو کې د دولت د وزیر ډاکټر غلام فاروق وردګ په مشرۍ، د اسلامي حزب ډېر مخکښ غړي د دغه ګوند له مشر انجنیر ګلبدین حکمتیار سره خپل پرېکون اعلانوي.

یوې باورې سرچینې د نوم نه ښودو په شرط مسیر ورځپاڼې ته ویلي، د دغه ګوند د رهبرۍ شورا غړو په یوه ناسته کې پرېکړه کړې، چې راتلونکې جمعه به دغه پرېکون په رسمي توګه اعلان کړي. د سرچینې په خبره، د پرېکون لوی لامل د حکمتیار خپل سرې پرېکړې بلل شوې دي. سرچینې دغه راز ویلي، چې په دغه ډله کې پر ډاکټر غلام فاروق وردګ سربېره، قاضي امین وقاد، عبدالرووف ابراهیمي، جمعه خان همدرد، اکبر بارکزی، مولوي سرفراز، مظفرالدین یمین او ځینې نور کسان شامل دي.

د یادونې ده چې تر دې وړاندې هم په اسلامي حزب کې د اختلافونو له کبله د دغه ګوند یوه څانګه د عبدالهادي ارغندیوال په مشرۍ بېله شوې وه، چې دغه اختلافونه لاهم نه دي حل شوې. ویل کېږي چې په دغه حزب کې د اختلافونو لوی لامل د حزب اسلامي د مشر ګلبدین حکمتیار خپلې سرې اقدامات دي، چې په ډېریو مهمو مسایلو کې یې د یاد ګوند د رهبرۍ شورا له غړو سره پرې هېڅ ډول مشوره نه ده کړې.

د یادونې ده چې اسلامي حزب تر دې دمه په دې اړه په رسمي ډول څه نه دي ویلي.

## افغان حکومت لاهم له فساد سره د مبارزې په برخه کې ناکام دی



۵ مخ

## پس از سال‌ها اختلاف ولسی جرگه قانون حمایت از کودکان تصویب کرد



قانون حمایت از کودکان پس از سال‌ها اختلاف در ولسی جرگه تصویب شد.

در این قانون ۱٦ فصل و ۱۰۸ ماده‌یی، تنها ماده سوم آن که در باره تعیین سن قانونی کودک است، اختلاف وجود داشت. دیروز دوشنبه نیز تعیین سن قانونی برای کودکان با اختلاف‌هایی رو به رو شد، چنان که شماری از نماینده گان با سن هژده سالگی مخالفت داشتند و بر بلوغ رسیدن تأکید داشتند. این قانون که سال پار در فرمان تقنینی رئیس جمهور توشیح شده است، در ماده سوم آن آمده است که کودک به کسی گفته می شود که هژده ساله نشده باشد.

در بسیاری از قانون ها و کنوانسیون هایی که افغانستان به رعایت آن ها پابند است و نیز در کود جزایی افغانستان، کسانی که کمتر از هژده ساله استند، کودک شناخته می شوند.

این قانون در سال های گذشته دوبار دیگر نیز به اجندای ولسی جرگه رفت، اما به علت اختلاف ها در باره تعیین سن کودکان تصویب نشده بود.

پس از این، این قانون برای تائید به مشرانو جرگه خواهد رفت.

قانون پشتیبان از کودکان، به حقوق و مصؤنیت های آموزش و پرورش، مراقبت های اجتماعی و جلوگیری از بهر کشی از کودکان پرداخته است.

در این میان قانون منع خشونت در برابر زنان نیز یکی دیگر از قانون های اختلاف بر انگیز در ولسی جرگه که تا کنون در اجندای تصویب گرفته نشده است.




Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a book to your life
دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

## دریـــځ

### د سولې پرمختګونه او د بین الافغاني تفاهم جدي اړتیا

په قطر کې د طالبانو او امریکایي لوري تر منځ خبرې روانې دي. که څه هم دواړه لوري په خبرو کې د پرمختګ په تړاو په رسمي ډول څه نه وايي، خو سرچینې وايي چې مهم پرمختګونه شوي دي او اوس آن پر دې کار روان دی چې هوکړه لیک څه وخت، چېرته او څه ډول لاسلیک شي. په دې ډول د طالبانو او امریکا تر منځ هوکړه لاسلیک کېږي او د سولې په برخه کې یو مهم پرمختګ راځي.
د امریکا او طالبانو تر منځ په خبرو کې له مهم پرمختګ سره باید د بین الافغاني خبرو لپاره هم جدي کار او هلې ځلې پیل شي. دا یوه جدي وېره ده چې امریکا او طالبان به توافق وکړي، خو بین الافغاني خبرې او هوکړې به له ستونزو سره مخ وي. اوس خو د افغانستان په چارو کې امریکا مخامخ ښکېل ده، خو د طالبانو او امریکا له توافق وروسته به کیسه لا زیاته افغاني شي او بیا به د جګړې د دوام ټوله پړه پر افغاني اړخونو وي. له همدې امله سر له اوسه باید د بین الافغاني خبرو او د جګړې د خاتمې لپاره هلې ځلې پیل شي. له بده مرغه حکومت په دې چاره کې لا هم ناغېرې کوي او داسې کوم ګام نه اخلي چې له بین الافغاني خبرو سره مرسته وکړي. حکومت لا هم پر دې ټینګار کوي چې طالبان باید له دوی سره خبرې وکړي، هر څه باید د دوی په مشرۍ او خوښه وي. که دا یوه پر ځای غوښتنه هم وي، خو ستونزه یوازې په دې سره نه حل کېږي، بلکې د بین الافغاني خبرو نور مهم او اصلي اړخونه باید تکمیل شي. پکار ده چې حکومت له سیاستوالو او خلکو سره پر یوه ګډ پلاوي کار وکړي. دا پلاوی باید د حکومتي استازو تر څنګ د سیاسي ګوندونو او خلکو استازي هم ولري، چې له طالبانو سره د خبرو لپاره سر له اوسه کار او تیاری وکړي.
که په کابل کې له ځینو سره دا فکر وي چې د طالبانو او امریکا هوکړه نه کېږي، دا ناسم فکر دی، ځکه چې ژر به دا هوکړه وشي. که دلته دا فکر وي چې د امریکا او طالبانو تر منځ له هوکړې وروسته به هېڅ نه بدلېږي او یا به دوی خنډ جوړ کړي، دا هم ناسم فکر دی. که څوک غواړي او که نه غواړي، باید بین الافغاني خبرو ته تیار شي او له خپله اړخه قرباني هم ورکړي. له دې پرته د سولې پر وړاندې اصلي خنډ ګڼل کېږي او بیا به نور افغاني اړخونه او خلک اړ شي چې پر وړاندې یې دریځ ونیسي.
اوس حکومت، سیاستوالو او ټولو افغانانو ته پکار ده چې نوي واقعیتونه ومني. له وروستیو بدلونونو باید د افغانستان او افغانانو په ګټه کار واخیستل شي. موږ باید دا چانسونه پر رښتینې سوله بدل کړو. له همدې امله پکار ده چې سیاستوال او حکومت یو بل ته لاسونه ورکړي، د بین الافغاني خبرو لپاره ګډ پلاوی وټاکي. له طالبانو سره هر څومره ژر چې امکان لري، باید خبرې پیل شي او د یوې رښتینې سولې لپاره پر یوې داسې هوکړه سره یوه خوله شو چې زموږ ارزښتونه پکې خوندي شي.

# پر هند د احمدشاه بابا برید؛ استعمار که بشردوستانه مداخله؟

لیکنه: برکت الله اریوبي

له نن څخه کابو ۲۵۸ کاله مخکې احمدشاه بابا پر هند نظامي برید وکړ، چې په ترڅ کې یې مرهټه وو ته سخته ماتې ورکړه او د ځینو څېړنو پر بنیاد، په دې جګړه کې شاوخوا ۵۰ زره هندي سرتیري ووژل شول. دا جګړه نن یو ځل بیا د افغانانو تر منځ خپل یاد تازه کوي. وروسته تر هغې چې د بالیوود مشهور فلمي ستوري سنجې دت په خپل یو نوي فلم(پاني پت) کې چې په دې وروستیو کې نندارې ته هم وړاندې شوی، د احمدشاه ابدالي رول یې لوبولی او له مرهټه وو سره پکې د تقابل خبره کېږي. دا فلم د افغانستان د ننه له سختو غبرګونونو سره مخ شوی او هېوادوال وېره لري چې کېدای شي د دوی هېواد یا د معاصر افغانستان بنسټګر احمدشاه ابدالي ته پکې سپکاوی شوی وي. که څه هم تر اوسه معلومه نه ده چې په دې فلم کې احمدشاه ابدالي ته په کومه سترګه کتل شوي، خو لا د وړاندې معلومه ده چې ابدالي ته هندوان د یو یرغل کوونکي او چپاولګر په سترګه ګوري.
اوس اساسي پوښتنه دا ده چې هند ته په څو ځلي نظامي یرغل د احمدشاه ابدالي اساسي موخه څه وه؟ آیا نوموړي پراختیا غوښتونکي او استعماري خوبونه درلودل که هلته د مېشتو مسلمانانو د زور او زیاتي د مخنیوي په موخه تللی و او یا د خپلې خاورې بېرته طبیعي پولو ته رسیدل یې غوښتل؟ په نړیوالو معاصرو حقوقو کې کله چې یو هېواد د خپلو وګړو یا بل هېواد له وګړو سره ظلم کوي، اساسي او بشري حقوق یې نقضوي، نوموړی هېواد او په مجموع کې نړیواله ټولنه لږ تر لږه په اخلاقي لحاظ دا مسوولیت لري چې تر ظلم لاندې وګړو د ملاتړ په منظور اقدامات وکړي او حتی کېدای شي نظامي یرغل تر سره کړي. دا ډول نظامي یرغل نن ورځ په نړیوالو حقوقو کې د ځینو دوکتورینو له نظره توجیه کېږي.
د دوی په اند، یو دولت یا ملګري ملتونه او په مجموع کې نړیواله ټولنه مسوولیت لري چې د بشر اساسي حقونو په ځانګړي ډول د ژوند حق ساتلو لپاره یې مکلفیت لري، مداخله وکړي. د دې لپاره چې د بحث ژورو ته ننوځو، ښه به وي چې د بشردوستانه مداخلې له مفهوم سره آشنا شو.
د بشردوستانه مداخلې مفهوم: د بشردوستانه مداخلې په تعریف کې ویل شوي چې: «بشردوستانه مداخله له هغه ډول مداخلې څخه عبارت ده، چې پرې د زور کارولو په واسطه د انساني افرادو د حقوقو د نقض مخنیوی کېږي». د بشردوستانه مداخلې په اړه توافق دا دی چې بشردوستانه مداخله د بشري او اساسي حقونو د ملاتړ په منظور تر سره کېږي. بشري حقوق نن نو یوازې د هېوادونو کورنۍ مسئله نه ده. د ملاتړ وړ حقوقو پېژندګلوۍ لپاره دوه ډوله حقوقي نظرونه مطرح شوي دي. د لومړۍ نظریې له مخې، د جبري او قهري هر ډول مواردو کې چې د بشري حقونو د ملاتړ په موخه مداخله صورت نیسي، کولای شو د بشردوستانه مداخلې خبره وکړو. لیکن د نړیوالو حقوقو ډېری علما له دویمې نظریې پلوي کوي. د دې نظریې له مخې، د بشري حقونو جدي سرغړونه د بشردوستانه مداخلې لپاره اساسي شرط ګڼل کېږي. همدې ته په کتو، د بشردوستانه مداخلې په ډېریو تعریفونو کې له پراخ، عمده او جدي نقض څخه خبره کېږي.
ویل کېږي چې د بشر اساسي حقونو په اړه د نظر یووالی نشته، په دې اړه یوازې د ژوند حق په اړه توافق شته چې د بشردوستانه مداخلې په ترڅ کې ورڅخه ملاتړ کېږي او د نړیوالو حقوقو ډېری پوهان دې حق ته قریب الوقوع او جدي خطر او ګواښ د بشردوستانه مداخلې لپاره شرط بولي. د بشردوستانه مداخلې په اړه بل مهم ټکی دا دی چې په زیاتره لیکنو کې په دا ډول مداخلاتو کې پر نظامي عملیاتو ډېره تکیه شوې، په دې ډول بشردوستانه مداخله چې د قهري او اجباري وسایلو او یا د نظامي وسایلو له مخې صورت نیسي، له بشردوستانه وساطت سره بېلېږي. ځکه چې بشردوستانه وساطت د سیاسي او اقتصادي فشارونو د اعمال په پایله کې رامنځ ته کېږي او هم له بشردوستانه مرستو سره یې توپیر جوتېږي، چې عمدتاً د غیردولتي او غیرانتفاعي سازمانونو له لوري صورت نیسي.
د نړیوالو حقوقو لغاتو فرهنګ بشردوستانه مداخله دا ډول تعریفوي: «بشردوستانه مداخله عبارت ده د یو هېواد له لوري په بل هېواد کې د زور او اجبار وسایلو څخه ګټه اخیستنه د هغو افرادو د ملاتړ په منظور، چې ژوند یې په خطر کې دی او د غیرانساني او وحشیانه کړنو ښکار شوي وي». د نړیوالو حقوقو په دایرة المعارف کې بشردوستانه مداخله په لاندې ډول تعریف شوې ده: «د یو دولت پر ضد له زور څخه ګټه اخیستنه د وګړو ځان، مال او آزادۍ دفاع او ملاتړ په موخه چې متبوع دولت یې یا ملاتړ نه شي کولای او یا هم نه غواړي ترې ملاتړ وکړي».
د نړیوال معروف حقوق پوه اوپنهایم په باور، بشردوستانه مداخله د لاندې شرایطو په نظر کې نیولو سره مجاز ده: «کله چې یو هېواد د خپلو وګړو پر ضد بې رحمانه رفتار وکړي او یا د هغوی تعقیب په داسې توګه د افرادو حقوق تر پښو لاندې کړي، چې د بشریت وجدان ولړزوي او یا یې جریحه دار کړي.
آر جی وینسنت د عدم مداخلې په کلاسیک تعریف کې «مداخله» دا ډول تعریفوي: «د یو هېواد، هېوادونو او یا نړیوالو سازمانونو له لوري په بل هېواد کې د هغه کړنو سرته رسولو ته وايي، چې په زور او جبر د هېواد په چارو کې مداخله کوي. دا فعالیت د پیل او پای مراحلو درلودونکی دی چې د اړوند هېواد د تسلط جوړښت تر برید لاندې راولي. دا فعالیت لزوماً قانوني او یا غیرقانوني نه وي، لیکن د نړیوالو اړیکو پخوانی الګو نقضوي». په کلاسیک مفهوم بشردوستانه مداخله د وګړو له اساسي او بشري حقوقو څخه د ملاتړ په منظور، په یو هېواد کې د بل هېواد له لوري هر ډول زور او اجبار کارونې ته وايي، چې دا دولت یا مایل نه وي چې د خپلو وګړو له حقوقو څخه ملاتړ وکړي او یا ونه شي کولای ترې ملاتړ وکړي. د ملاتړ اړوند اشخاصو له مخې، بشردوستانه مداخله نور ډولونه هم لري؛ په دې مانا چې د یو هېواد له خوا د بل هېواد پر ضد زور کارونه چې د مداخله کوونکي هېواد وګړو ملاتړ او یا د دریېیم دولت وګړو ملاتړ په منظور تر سره کېږي، هم بشردوستانه مداخله بلل کېږي.
په کلي توګه پورتني تعریفات دوه بنیادي او اساسي شرطونه لري. لومړی دا چې بشري حیات ته به پراخ ځاني او مالي تلفات اوښتي وي او دویم دا چې د بشري او اساسي حقوقو لپاره ګواښ موجود وي. په دې اړه مهم ټکی د هغو وضعیتونو حضور دی چې د بشري حقونو نقض مصداقونه شمېرل کېږي. مسلماً د دا ډول وضعیت پېژندل له موږ سره مرسته کوي، څو د بشردوستانه مداخلې واقعي ماهیت درک کړو او هر ډول مداخلې ته د دا ډول مداخلې نوم ورنه کړو. په منطقي لحاظ ډېر موارد د پورتنیو تعریفونو په ډله کې شاملېږي، چې ځینې یې په لاندې ډول دي:
نسل وژنه یا جینوساید؛
د کورنۍ دولت د عواملو له لوري د اجنبیانو ډله ییزه وژنه؛
په داخلي اړودوړ کې د دریېمګړي دولت وړ قتل او یا ورته فوري ګواښ شتون؛
د هغو اشخاصو ملاتړ چې د ژوند حق یې تر ګواښ لاندې دی او د غیرانساني او وحشي کړنو تر خطري لاندې دي؛
د بل هېواد د وګړو له ځان، مال او آزادۍ څخه ملاتړ چې په خپله نه غواړي او یا ترې ملاتړ نه شي کولای؛
کله چې یو دولت د خپلو وګړو اساسي او بشري حقوق په داسې ډول تر پښو لاندې کړي، چې د بشریت وجدان ته صدمه ورسېږي.
اوس پوښتنه دا مطرح کېږي چې آیا د بشردوستانه مداخلې لپاره د بشري حقونو پراخ او جدي سرغړونه شرط بلل کېږي که څنګه؟ او یا دا چې د اساسي بشري حقونو د نقض خطر هم بسنه کوي او بشردوستانه مداخلات توجیه کوي؟ په دې اړه د حقوقو ځینې پوهان لکه لیلیچ یوازې د خطر شتون کافي بولي، نوموړی معتقد دی چې: «لکه څه ډول چې پوهېږو د بشردوستانه مداخلې اصلي موخه او انګېزه دا ده چې له بشریت څخه ملاتړ وشي، نو په دې اساس هیڅ داسې اصل نشته چې یو هېواد دې منتظر پاتې شي او ودې ګوري چې کړنه تر سره شي او بیا دې مداخله وکړي، دا ځکه چې د دا ډول مداخلاتو موخه مخنیوی دی نه تنبیه. نو ځکه وایو چې د بشردوستانه مداخلې لپاره قریب الوقوع خطر او ګواښ شتون هم بسنه کوي». دا په داسې حال کې ده چې د نړیوالو حقوقو ځینې پوهان لکه اوپنهایم پر دې باور دی چې بشردوستانه مداخله هلته جواز لري، چې د بشري حقونو پراخه سرغړونه رامنځ ته شوې وي او یا دا چې د نسل وژنې مخنیوي په موخه دا ډول مداخله تر سره شي.
نن ورځ په نړیوال نظام کې د تحولاتو په راتلو او د بشري حقونو قواعدو په نړیوال کېدو، بشردوستانه مداخله پر یوې قاعدې او ارزښت بدله شوې ده.
دا ټکی د یادولو ده چې بشردوستانه مداخله باید له بشردوستانه نړیوالو حقوقو سره توپیر لري، ځکه چې بشردوستانه نړیوال عمومي حقوق چې د بشري حقونو څانګه ده او له بله اړخه د نړیوالو مسلحانه مخاصماتو او جنګ قواعدو له جملې څخه دي، په بین المللي او یا داخلي شخړو کې د ښکېلو ډلو او انساني افرادو د حقوقو تر څنګ، تکالیف مشخصوي. په حقیقت کې بشردوستانه حقوق د جنګ په وخت کې انساني حقوق دي. اوس د پاني پت پر جګړې تم کېږو:
د پاني پت ښار د هند د پلازمېنې نوي ډیلي نه شمال خوا ته په ۱۶۰ کیلومترۍ کې د هاریانا په ایالت کې پروت دی٠ د هند د پنجاب د ایالت له مر کزچندیګر څخه په جنوب کې ۱۶۹ کیلومتره واټن لري٠ د دغه تاریخي ځای نوم د هند په لرغونو تاریخي کتابونو کې (پاداواپراشتاو) و چې د مهابها رت په عصر کې د پانډوانو له خوا جوړشوی دی.
د پاني پت په تاریخي ډګر کې د تاریخ په بېلابېلو پړاوونو کې درې سترې جګړې شوې دي، چې په دغو دریو واړو جګړو کې د تصادف له مخې پښتانه شا مل وو. دغه جګړې د افغانستان او هند له تاریخ سره نه شلېدونکې اړیکې لري. د پاني پت جګړه د احمدشاه بابا او مرهټه وو تر منځ د۱۷۶۱ ز کال د جنورۍ میاشتې په ۱٤مه په پاني پت کې وشوه چې مر هټه وو ماتې وخوړله.
ځینې کسان دا پوښتنه مطرح کوي چې ولې احمدشاه بابا پر هند برید وکړ، چې په پایله کې یې ډېرۍ افغانان ووژل شول او یا په هند کې بې ګناه وګړي له تیغه تیر شول، آیا دا د احمدشاه ابدالي پراختیا غوښتونکي سیاست یوه برخه وه او که نور لاملونه هم موجود وو چې ابدالي پر نوموړي سیمه برید کوي؟ دې پوښتنې ته په ځواب کې محقق او تاریخپوه استاد سنګروال پر هند د احمدشاه ابدالي د برید لاملونه په لاندې توګه په ګوته کوي:
لومړی دا چې احمدشاه بابا لا واک ته نه و رسېدلی چې له هرات نه نیولې تر کابله پورې افغانستان د اوسني ایران تر ولکې لاندې و او له کابل نه نیولې تر پېښوره پورې د هندي ګورګانیانو په واک کې و.
دویم دا چې د افغانستان په ګډون، د سیمې د ټولو هېوادونو پولې د اوس په څېر څرګندې نه وې. کله به هېواد ډېر لوی شو او کله به کوچنی شو.
درېیم دا چې د احمدشاه بابا د واکمنۍ پر مهال په منځنۍ اسیا کې په لسګونو سیمه ییزې واکمنۍ وې. په ایران کې اصفهان د علي مردان په لاس کې و. د پارس جنوبي برخې د کریم خان زند له خوا چلول کېدې. نور پارس د څو تنو سیمه ییزو واکمنانو په لاس کې و. د خضر سواحل د محمد حسین قاجار په واک کې وو. آذربایجان د یوه افغان مشر آزاد خان غلجي له خوا اداره کېده. همدارنګه ډېر نور سیمه ییز واکمنان یادولی شو چې د خپلمنځي جګړو له کبله یې احمدشاه بابا ته بلنه ورکړه چې په ایران کې هم خپل حکومت جوړ کړي. د یادو شوو او نورو لاملونو له مخې، احمدشاه بابا اړ شو چې اته واړې پر هندوستان برید وکړي.
یاده دې وي چې په هند کې مرهټه وو د سیمې پر مېشتو مسلمانانو ډېر ظلمونه کول او د هغوی ټول حقونه یې تر پښو لاندې کړي وو. د اسلامي نړۍ ستر مجتهد او نامتو محدث حضرت شاه ولي الله دهلوي هم احمدشاه بابا ته په یو لیک کې داسې وايي: «په اوسني وخت کې په دې سیمه کې یو داسې واکمن او پاچاه چې د ځواک، شان او شوکت خاوند وي او له مرهټه وو سره وجنګېږي، بل څوک نشته او یوازینی کس تاسو یاست چې د دوی مقابله کولای شی، نو پر تاسو فرض ده چې هندوستان ته راشئ!» ویل کېږي چې احمدشاه بابا د هغه درناوي له کبله چې نوموړي ته یې درلود، د ده غوښتنې ته یې مثبت ځواب ووایه او د هند پر لور روان شو. همدا راز سید احمد موثقي په خپل کتاب جنبش های اسلامی معاصر کې دې موضوع ته اشاره کړې او وايي چې پر هند د احمدشاه د یرغل موخه چور، چپاول او استعمار نه و، بلکې اساسي موخه یې په هند کې له مېشتو مسلمانانو سره د مرستې او د هغوی خلاصون و. نوموړی معتقد دی چې هندي مسلمانو امراوو او مشرانو په ځانګړې توګه لوی اسلامي مجتهد او محدث شاه ولی الله دهلوي په غوښتنه، احمدشاه ابدالي هلته تللی او تر څو ځلي مکتوبونو وروسته یې دعوت منلی دی. احمدشاه د یو مسلمان امیر په توګه خپل مکلفیت باله چې د مستضعفو مسلمانانو لاسنیوي ته ور ودانګي، څو یې له ظلم څخه خلاص کړي او دا په حقیقت کې د اسلامي فقهې په زړه پورې بل بحث دی چې جزیات به یې په نورو بحثونو کې وڅېړو.
د مؤرخینو په وینا، په هند کې د هغه وخت سیاسي او اجتماعي وضعیت دومره بد و چې حاکمې ګورګاني طبقې د مسلمانانو لپاره حالات خورا سخت کړي وو او همدې وضعیت شاه ولی الله اړ کړ چې د خطونو په ترڅ کې له احمدشاه ابدالي څخه د مرستې غوښتنه وکړي.
په پای کې ویلای شو چې سره له دې چې احمدشاه ابدالي غوښتل یو ځل بیا د هېواد قلمرو هغو طبیعي او اصلي پولو ته ور وګرځوي او د همدې په موخه یې سلطنت ته له رسېدو سره سم د شرق، غرب او جنوب پر لور حرکت وکړ؛ خو هند ته یې تګ په هغه وخت کې د هندې مېشتو مسلمانو وګړو (چې مظلوم وو او د اقلیت په بڼه مطرح وو)، لاسنیوی او له ظلم څخه خلاصون ورکول وو؛ هغه څه چې په نننیو نړیوالو معاصرو حقوقو کې هم ډېر دوکتورین یې پلویان دي، حقوقي توجیه ورته پیدا کوي او د بشردوستانه مداخلې نوم ورکوي.

# په افغانستان کې امریکايي ناکامه جګړه؛

## واشنګټن پوسټ: امریکايي ولسمشرانو د افغان جګړې په اړه خپل ملت ته دروغ ویلي



امریکايي واشنګټن پوسټ ورځپاڼې په افغانستان کې د امریکا د جګړې په اړه ځینو محرمو اسنادو ته لاسرسی پیدا کړی دی. دغه ورځپاڼه وايي، دری کاله یې په قانوني توګه د دغو معلوماتو د تر لاسه کولو لپاره مبارزه کړې، خو امریکايي حکومت همکاري نه ورسره کوله. په دې اسنادو کې له ۴۰۰ کسانو سره مرکې شوې دي. دوی هغه کسان دي چې په افغان جګړه کې یې برخه لرله او د دې جګړې په اړه یې خپل نظریات شریک کړي دي. دوی ویلي چې د جګړې په اړه یې معلومات نه لرل او ان پر دې هم نه پوهېدل چې د څه لپاره مبارزه کوي.

سره له دې چې د نړۍ ډېرو رسنیو په افغانستان کې د امریکا جګړه ناکامه بللې ده، خو اوس ان هغه کسان هم د امریکايي جګړې له ناکامۍ خبرې کوي، چې په دغه جګړه کې یې برخه لرله. واشنګټن پوسټ تازه دوه زره پاڼې اسناد پیدا کړي دي او په هغه کې په افغانستان کې د امریکايي جګړې په اړه ناویل شوې خبرې پرتې دي. په دغو اسنادو کې له هغو کسانو سره مرکې شوې، چې د افغانستان په جګړه کې یې برخه اخیستې وه او په اړه یې معلومات لري. په دې کسانو کې ډیپلوماټان، امریکايي جنرالان، د جګړې مرستندویه ډلې او ان افغان چارواکي هم شامل دي.

دوی ویلي چې په افغانستان کې د امریکايي جګړې په اړه دروغ ورته ویل شوي دي او د دې جګړې پر حقیقت نه دي پوهېدلي. ان امریکايي جنرالان چې په دې جګړه کې یې مشري او قومانده لرله، هم د جګړې په اړه معلومات نه لري. امریکايي جنرال داګلاس لوت چې د اوباما او بوش د واکمنۍ پر مهال یې په افغانستان کې په جګړه کې مهمې دندې تر سره کړې ویلي، د جګړې په اړه یې معلومات نه لرل. هغه زیاته کړې: ((موږ د جګړې په اړه معلومات نه لرل. موږ نه پوهېدو ولې هلته جګړه کوو. موږ یو واضح تصویر نه درلود)).

د دې تر څنګ، یاده ورځپاڼه د اسنادو له مخې وايي چې امریکايي حکومت نه یوازې خپلو پوځیانو؛ بلکې امریکايي ملت ته هم د جګړې په اړه ناسم معلومات ورکړي یا یې دروغ ورته ویلي دي. سرچینه کاږي، امریکايي جنرالانو او پوځیانو تل په جګړه کې د بریا خبرې کړې دي، خو په حقیقت کې دوی ان د هغه څه په اړه هم معلومات نه لرل، چې د دوی په شاوخوا کې روان وو. ډېری امریکايي جنرالان او پوځیان دغه جګړه ناکامه بولي او پر دې باور دي چې په افغانستان کې د مدرن حکومت د جوړولو او ثبات راوستلو لپاره میلیاردونه ډالر بې ځایه لګول شوي دي.

واشنګټن پوسټ وايي، دا د امریکايي حکومت لپاره ستره پوښتنه ده چې ولې یې له واضح تصویر او موخې پرته زرګونه سرتېري په افغانستان کې مړه یا ټپیان شول. ورځپاڼه لیکي، ۷۷۵ زرو امریکايي سرتېرو په افغانستان کې په دوره یي توګه ماموریت تر سره کړی دی. په دغه جګړه کې تر ۲۴۰۰ پورې عسکر وژل شوي او ۲۰۵۸۹ امریکايي عسکر په افغانستان کې ټپیان شوي دي.

واشنګټن پوسټ وايي، امریکايي حکومت باید د دغو تلفاتو او میلیاردونو ډالرو د لګولو په اړه ولس ته قانع کوونکی ځواب ولري.

امریکايي جنرالان پر دې باور دي چې د دوی سلګونه عسکر د معلوماتو د نه لرلو له امله وژل شوي او یا ښايي په یوه بې موخه او بې ګټې جګړه کې وژل شوي وي. ډوګولاس وايي: ((په جګړه کې ۲۴۰۰ کسان ووژل شول. لامل یې څه دی د څه لپاره؟ څوک ویلی شي چې د دوی مرګ بې ګټې و او په بې ګټې لار کې وژل شوي دي؟)).

واشنګټن پوسټ وړاندې لیکي چې په دغه ۲۰۰۰ مخه اسنادو کې له مهمو پوځي چارواکو او څارونکو سره خبرې شوې دي. له دې ډلې د ۶۰ په شاوخوا کې کسانو شهرت او معلومات دوی ته ورکړل شوي او د پاتې نورو کسانو شهرت د سیاسي او نظامي مسایلو له امله نه دي ورکړل شوی. تر دې وړاندې هم ډېرو رسنیو داسې راپورونه خپاره کړي وو، چې امریکايي عسکر په افغانستان کې په داسې یوه بې ګټې جګړه کې ښکېل دي، چې له ورایه پکې ناکام ښکاري. امریکا په افغانستان کې د خپلو ژمنو په عملي کولو کې چې پیاوړی ولسواک نظام جوړول، د ترهګرۍ ضد مبارزه، د نشه یي توکو مبارزه، د ناامنیو له منځه وړل او نور وو، بریالۍ نه شوه چې له همدې امله په نړیواله کچه له نیوکو سره مخ ده.

## شکایتونو کمېسیون: له شواهدو پرته به د ټاکنو کمېسیون شکایتونه ونه څېړو

وروسته له هغې چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون د ۱۲۵۰۰ هغو موقتو کارکوونکو نوملړ د څېړنو په موخه شکایتونو کمېسیون ته واستاوه، چې په دنده کې پر غفلت تورن شوي وو، د شکایتونو کمېسیون ټینګار کوي چې له اسنادو او شواهدو پرته به شکایتونه ونه څېړي.

دا په داسې حال کې ده چې د ټاکنو ستونزې ورځ تر بلې زیاتېږي، د ټاکنو شکایتونو کمېسیون د ټاکنو د خپلواک کمېسیون له دوولس زرو زیاتو کارکوونکو تخلفات نه مني او وايي چې دوی د عدلي او قضایي بنسټونو او ټاکنو خپلواک کمېسیون تر منځ د منځګړیتوب حیثیت نه لري.

د دغه کمېسیون ویاند قاسم الیاسي ازادي راډیو ته ویلي، ۹۸ سلنه هغه کارکوونکي چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون ته معرفي شوي، موقت کارکوونکي دي او د ټاکنو قانون له مخې، د هغو عزل او څېړنه د ټاکنو خپلواک کمېسیون صلاحیت دی. هغه زیاته کړې: «هغه شکایتونه چې ثبت شوي، هغه د دغه کمېسیون د موقتي کارکوونکو دي. خپله د ټاکنو کمېسیون دنده لري، هغه کارکوونکي یې چې ټاکنیز جرمونه یې کړي وي، منفصل او عدلي او قضایي ارګانونو ته یې ور وسپاري، ځکه موږ نشو کړای د واسطې یوه کړۍ اوسو، بله مسئله دا چې موږ باید ۱۲۰۰۰ کسانو ته دوسیې جوړې کړو او باید اسنادي موجودي وي چې دا دوسیې جوړې کړو، خو دا څېړنو ته اړتیا لري».

د یاد کمېسیون په خبره، د ټاکنو خپلواک کمېسیون ان دا نه ده په ډاګه کړې چې دغو کارکوونکو څه ډول تخلفات او غیر قانوني کړنې کړې دي. دا په داسې حال کې ده چې شاوخوا دری اونۍ وړاندې د ټاکنو خپلواک کمېسیون له دارالانشا غوښتي وو چې ټول هغه کارکوونکي چې په ولسمشریزو ټاکنو کې پر سرغړونو او ټاکنیزو جرایمو تورن دي، ودې پېژني او د شکایتونو کمېسیون ته یې دې ورمعرفي کړي.

تر دې وړاندې ورمه ورځ د ټاکنو کمېسیون مشرې حوا علم نورستانۍ له متعرضو نوماندانو سره د ناستې په څنډه کې وویل چې ۱۲۶۵۰ هغه کارکوونکي چې د تلې په شپږمه په ولسمشریزو ټاکنو کې یې ټاکنیزې سرغړونې کړې، ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون ته یې ورپېژندلي دي.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون ویلي، ټاکنیزو شکایتونو ته د رسېدنې کمېسیون دوی ته د محکمې حیثیت لري او که د دغو کارکوونکو په اړه ستونزه یوازې د شواهدو او اسنادو وي، چمتو دي چې دا اسناد برابر کړي او د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون ته یې وسپاري.

د دغه کمېسیون ویاند عبدالعزیز ابراهیمي ویلي: «موږ به له جزیاتو سره اسناد د شکایتونو کمېسیون ته وسپارو، له نوي سلنه لوړ زموږ کارکوونکي موقت وو چې اوس موږ شکایتونو ته د رسېدنې کمېسیون ته معرفي کړي، د شکایتونو کمېسیون موږ ته د محکمې حیثیت لري، خو په هغه صورت کې چې موږ پورې اړوند وي، د لوایحو او طرزالعمل پر اساس به پرېکړه وکړو».

## ټاکنو کمېسیون: له معترضو ټاکنیزو ډلو سره د خبرو لپاره نور وخت نه لرو

د ټاکنو خپلواک کمېسیون ویلي، دوی نور وخت نه لري چې له معترضو ټاکنیزو ډلو سره خبرې وکړي.

دا په داسې حال کې ده چې د ولسمشرۍ ټاکنو لپاره د نوماندانو د استازو، پر ټاکنو د څار بنسټونو، ګوندونو او مدني ټولنو سره له ناستې وروسته، د ټاکنو خپلواک کمېسیون ویلي، د دوی کار له معترضو ډلو سره مذاکره نه، بلکې د قانون له مخې پرېکړه ده. د دغه کمېسیون ویاند میرزا محمد حقپرست ویلي، د ټاکنو خپلواک کمېسیون له دې وروسته د مذاکراتو لپاره وخت نه لري.

هغه دغه راز زیاته کړې: «کمېسیون یو مذاکره کوونکی بنسټ نه دی، نور موږ د مذاکراتو او خبرو اترو لپاره وخت نه لرو، دا وروستی چانس و چې دوی ته مو برابر کړ، مګر متاسفانه دوی غونډه پرېښوده، فکر نه کوو چې بل داسې چانس برابر شي».

خو د ثبات او همپالنې ټاکنیزې ډلې ویلي، د ټاکنو خپلواک کمېسیون له وړاندې خپلې پرېکړې کړې او نه غواړي چې قانوني مسیر ته را وګرځي.

د دې ډلې غړي فضل احمد معنوي په کابل کې یوې خبري غونډې ته ویلي، دوی لا هم هیله لري چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون د دوی غوښتنو ته مثبت ځواب ورکړي.

هغه زیاته کړې: «د ټاکنو خپلواک کمېسیون اوس هم هغه فرصتونه چې لري، شاید زیاد وخت تېر شوی وي، مګر بیا هم که وخت پاتې وي، باید قانون ته را وګرځي. هغه څه چې ښکېل لوري او د افغانستان خلک قانع کوي او هغه څه چې کولای شي د افغانستان راتلونکی تضمین کړي، قانون دی، قانون ته درناوی او همدا ډول احترام دی او موږ همدا غواړو».

د ثبات او همپالنې ټاکنیزې ډلې دغه راز خبرداری ورکړی، که کمېسیون خپل کار ته په همدې ډول دوام ورکړي، په افغانستان کې د کړکېچ، سختۍ، پېچلتیا او ستونزو مسوولیت به یې پر غاړه وي.

خو د ټاکنو خپلواک کمېسیون بیا ویلي، ټولې کړنې یې د قانون او طرزالعملونو پر بنسټ مخ ته وړې دي.

په ورته وخت کې پر ټاکنو د څار بنسټونو ویلي، له اوسنیو ستونزو د حل یوازینۍ لار د ولسمشرۍ ټاکنو د لومړنیو پایلو اعلان دی.

د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو بنسټ اجرایه رییس یوسف رشید ویلي: «مقابل لوری باید دې ته چمتو شي چې کمېسیون لومړنۍ پایلې اعلان کړي او دوی خپل موضوعات د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون له لارې تعقیب کړي. له دې پرته بله حللاره نشته. که دا پروسه هر څومره ځنډېږي، نوې ستونزې پکې جوړېږي، تر دې چې د اعتبار او مشروعیت موضوع یې هم را پورته کېدای شي».

دا په داسې حال کې ده چې د یکشنبې په ورځ د معترضو ډلو په ګډون، د ټاکنو خپلواک کمېسیون عمومي ناستې ته هیله مندي دا وه چې کېدای شي چې د روان کړکېچ حل لار یې پای وي، خو ښکاري چې لا هم ښکېل لوري په یوه او بل د باور جوړونې په برخه کې پاتې راغلي.

## راپورونه: په عراق کې د لاریونوالو تر وژل کېدو وروسته د دغه هېواد په امنیتي سکټور کې بدلونونه راغلي

د عراق په پلازمېنه بغداد کې د حکومت ضد لاریون کوونکو تر وژل کېدو وروسته، د دغه هېواد په امنیتي سکټور کې بدلونونه راوستل شوي دي.

د راپورونو له مخې، د دغو بدلونونو په جریان کې د دغه هېواد د یوه مهم امنیتي چارواکي جنرال قیس ال محمد واعي په ګډون، ډېر کسان له دندو لرې شوي او په ښار کې امنیتي پوستې زیاتې شوې دي.

دا په داسې حال کې ده چې د عراق په پلازمېنه بغداد کې تر یوه خونړي برید وروسته، امنیتي تدابیر هم زیات شوي دي. د تېرې جمعې او شنبې سهار نامعلومه وسله والو په بغداد کې پر لاریون کوونکو ډزې وکړې، چې ډېرو کسانو ته پکې مرګ ژوبله واوښته.

اسوشیټېډ پرېس خبري اژانس لیکلي چې په دغو بریدونو کې ۲۵ لاریون کوونکي او پولیس وژل شوي او ۱۳۰ نور هم ټپیان شوي دي.

په ورته وخت کې د اسراییلو لومړي وزیر بنیامین نتنیاهو ایران تورن کړی چې په بغداد کې د جمعې ورځې په دغه برید کې لاس لري.

نتنیاهو د خپل حکومت په کابینه کې ویلي چې دا بریدونه د ایران د رژیم په امر شیعه ملېشه ډلو کړي دي.

هغه ویلي: «ایران په منځني ختیځ کې د لانجو جوړولو ته دوام ورکړی دی او دا کار یې لا پسې زیات کړی دی. د جمعې په ورځ په بغداد کې برید وشو او بېګناه لاریون کوونکي پکې ووژل شول. شواهد ښیي چې دا بریدونه د عراق ملېشه ډلو د ایران د رژیم په مستقیمې لارښوونې تر سره کړي دي».

له دغه برید وروسته چارواکو ویلي، چې په بغداد کې د ښار شاوخوا ځای ځای پوستې لګول شوې چې د لاریونوالو امنیت خوندي کړي.

پر دغو اقداماتو سربېره، په پوځ کې هم ځینې اصلاحات او بدلونونه راغلي چې له ډلې یې د بغداد د مرکز د امنیت مسوول جنرال قیس ال محمد واعي هم له دندې ګوښه شوی دی. اینا رسمي خبري اژانس د جنرال قیس د لرې کېدو خبره تایید کړې او ویلي یې دي چې اوس د بغداد د دولتي امنیت لپاره جنرال عبدالحسین ال تمیمي ټاکل شوی دی.

د جمعې په ورځ د عیني شاهدانو په حواله، وسله والو بریدګرو له موټرو پر دوی باندې چې په الخیلاني میدان کې ټول وو، ډزې کړې دي.

دا دې اکتوبر له لومړۍ د عراق د لاریونونو له پیل تر ټولو خونړۍ پېښه وه.

په عراق کې د حکومت ضد لاریونونو په پایله کې د دغه هېواد لومړی وزیر عادل عبدالمهدي استعفا ته اړ شو. د دغو لاریونونو پر مهال تر اوسه ټولټال د څه باندې ۴۳۰ کسانو د وژل کېدو خبره تایید شوې او زرګونه نور کسان ټپیان شوي هم دي.

## د کتــاب خبــرې

# پښتانه

### د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

◎ ليکوال: ابوبکر صديق


◎ ژباړن: اقامحمد قريشي

**دریمه برخه**

**افغانستان**

### نهم څپرکی

### په لويه پکتيا کې قومونه، کمونېستان او د جهاد نسل




لويه پکتيا کې جوته ده چې طالبان له قومي کچې لوړ وو. ځينو قومونو ان له هغوی سره پر ټولنيزو ستونزو جگړې هم کولې. له طالبانو سره تړلې شبکې بيا قومي او ولسي ريښې هم لري. طالبانو د اسلام او پښتونولۍ تر منځ د خپل هويت لپاره د اسلام دين ټاکلی و. دا سيمه په تېرو دربيو لسيزو کې سياسي، نظامي او اقتصادي کړکېچونو په پرلپسې توگه ځپلې وه. د جرگې دود او د هغې اصول (بيه) هم کمزوري شوي وو. په ځينو ځايونو کې ان د جرگې کلمه د عربي ژبې په (شورا) کلمې اوښتې وه، قومندانان او زورواکان پکې ډېر زور لري. د يوه ځايي اوسېدونکي په وينا، اوس زور تر پښتونولۍ او قانون ډېر واک لري. د طالبانو د حکومت له ماتې وروسته، د منگلو د قوم يو مخور مشـر، حيدرگل منگل د نوي افغانستان جوړولو په برخه کې يو نوښتگر شخص و. منگلو په ۲۰۰۳ز کال د نوي حکومت او د نړيوالې ټولنې د بيارغونې پروگرامونو د ملاتړ په موخه لويه جرگه وکړه. حيدرگل منگل د جرگې پر خپلواکۍ ټينگار کاوه. د دې جرگې کار څو ورځې دوام لاره. هغه په ۲۰۱۱ز کال وويل: ((موږ له دې لارې غوښتل خپلې ستونزې اوارې کړو. نه مو غوښتل له گاونډيو دولتونو او يا هم نوي حکومت سره ستونزه ولرو. زموږ يوازينۍ هيله د خلکو د سوله ييز ژوند ډاډمنتيا وه.))

د دې جرگې په ترڅ کې يو پراخ تړون وشو چې پکې د سولې لپاره ډېر موضوعات تضمين شوي وو. هغوی د سلو کسانو په شاوخوا کې سيمه ييز سرتېري (اربکيان) برابر کړل چې له گردېز څخه تر خوست د لويې ستراتيژيکې لارې امنيت خوندي کړي. د منگلو مشـرانو څه باندې پنځه کلونه دا تړون پلی کړ، تر دې چې په ۲۰۰۷ز کال د منگلو قومي مشـرانو د هغه کس کور ته اور واچاوه چې غوښتل يې ځمکنۍ ماين ښخ کړي او پرې چاودلی و. د حيدرگل منگل پر وينا، دا تړون په پای کې د مالي امکاناتو د نشتوالي او د حکومت د نه ملاتړ له کبله د اربکيانو په شمول پای ته ورسېد. د ۲۰۰٦ز کال په سپټمبر کې يو ځل بيا د ۱۰۰۰ قومي مشـرانو او مخورو له لوري په خوست کې يوه لويه غونډه وشوه. دا جرگه د پکتيا پر والي حکيم تڼيوال د ځانمرگي بريد په غبرگون کې راټوله شوې وه. وروسته له هغه چې د حکيم تڼيوال په جنازه کې بل ځانمرگی بريد وشو، په پايله کې يې اووه تنه ووژل او له څلوېښتو ډېر هم ژوبل شول، د خوست د قومي مخورو غوسه يې وپاروله. دې جرگې ورته بريدونه وغندل او د افغان حکومت بشپړ ملاتړ يې اعلان کړ چې پرېکړې يې په دې توگه وې:

۱. د خوست د دوولسو ولسواليو او دربيو اداري واحدونو قومي مخور، علماء او پوهان په بشپړه توگه د اسلامي جمهوري دولت ملاتړ کوي.

۲. دا غونډه د افغانستان د ځمکنۍ بشپړتيا، حکومت ته د وفادارۍ، د وطن پالنې د روحيې له مخې او د اسلامي قوانينو په چوکاټ کې د حکومت ملاتړ خپل ملي او اسلامي رسالت گڼي.

۳. د خوست مسلمان او وطنپال خلک د پاکستاني زورواکي جنرال پروېز مشـرف هغه ښرگندونې چې د افغانستان د کورنيو چارو په اړه يې کړې وې، په سختو ټکو غندي او د هغه خبرې د افغانستان په کورنيو چارو کې نېغه لاسوهنه گڼي.

۴. په بروکسل کې د مشـرف نوې څرگندونې ښيي چې نوموړی او هېواد يې په نړيوالو ژمنتياوو کې پاتې راغلی. هغوی له نړيوالې ټولنې سره د ترهگرۍ پر ضد مبارزه کې هم ناکام شوي. مشـرف پر دې ډول بې بنسټه خبرو، غواړي، د نړيوالې ټولنې پاملرنه خپل لور ته واړوي.

۵. د خوست وروڼه قومونه په خپلو کې له تبعيض او دښمنيو ډډه کوي، په يوه غږ د سولې او پرمختگ لپاره کار کوي چې د راتلونکو نسلونو لپاره ښه راتلونکی تضمين کړای شي. موږ به په يووالي سره د خپلو کړنو لپاره قومي، حقوقي او اسلامي اصول رعايتوو.

٦. د خوست قومونه د خپلو سيمو امنيت ته پاملرنه کوي، هېڅ ډول ناوړه کړنو او تاوتريخوالي ته اجازه نه ورکوي.

۷. علماء، قومي مخور او عام خلک ځانمرگي بريدونه د اسلام مبارک دين او زموږ د سيمې د کلتور او افغاني ارزښتونو خلاف بولي. موږ دا ډول بريدونه په سختو ټکو غندو.

۸. علماء او قومي مخور د ملي امنيتي ځواکونو او خلکو پر ضد ځانمرگي بريدونه، جگړه او ترهگريز فعاليتونه د اسلام مبارک دين له مخې منع کوي.

۹. د دې غونډې ټول گډونوال د ملگرو ملتونو د سرمنشي کوفي عنان او نړيوالې ټولنې غوښتنه کوي چې زموږ په هېواد کې د ناامنۍ بهرني اړخونه وڅېړي. موږ له هغوی غوښتنه کوو چې د افغانستان له خلکو سره د امنيت په برخه کې همکاري وکړي.

۱۰. د خوست علماء، قومي مخور او عام خلک له مرکزي حکومت او نړيوالو مرستندويه بنسټونو غوښتنه کوي چې زموږ په سيمو کې سياسي، اقتصادي، ټولنيز، کلتوري او تعليمي پرمختيا ته جدي پاملرنه وکړي.

د لويې پکتيا قومونو ته ترهگريزو بريدونو ډېر زيانونه اړولي وو. د هغوی قومي مخور چې په ډاگه به يې د طالبانو مخالفت کاوه، په مرموزه توگه وژل کېدل. نور قومي مخور د گواښونو له کبله کابل ته لاړل. په ډېرو کليو کې طالبانو ښوونځي او کلينيکونه تړلي وو. طالبانو د نړيوالې ټولنې مخه ډب کړې وه، هغوی نشو کولای چې قومي مخور او قومي ځواک د سيمې د امنيت لپاره وکاروي. طالبانو به د خپلې گټې لپاره د قومونو تر منځ شخړو ته هم پوکې واهه. **دوام لري...**

# تتسو ناکامورا

شفيق اميرزی



تتسو ناکامورا د ۱۹۴٦ ز کال د سپټمبر په پنځلسمه د جاپان په فوکووکای ښار کې زېږېدلی دی. دی په جاپان کې له کيوشو طبي پوهنتون فارغ شو. دا په جاپان کې څلورم تاريخي پوهنتون گڼل کېږي. دی په ۳۸ کلنۍ کې د جذام پر ناروغۍ د اخته کسانو د درملنې لپاره له يوې جاپانۍ موسسې سره پېښور ته راغی. هلته يې د کډوالو په کمپونو کې د افغان ماشومانو درملنه او د جذام ناروغانو تداوي کوله. ده همدلته د پېښور کای په نامه يو مرکز جوړ کړ. د دغه مرکز او بنسټ له جوړولو دوه کاله وروسته، د هېواد ختيځ ولايت ننگرهار ته راغی او په مرکز جلال اباد کې يې خپله دنده پيل کړه. په ۱۹۹۱ز کال کې يې د دريو کلينيکونو په جوړولو لاس پورې کړ. په دې توگه نو ناکامورا په جلال اباد کې د غير دولتي مرستندويه اداري بنسټ کېښود. نوموړي د دغه بنسټ نوم د جاپان د سولې غير دولتي سازمان کېښود. ده (تياره ځايونو ته د رڼا رسول) خپل شعار وگرځاوه.

ناکامورا يا د افغانستان کاکا مراد کلونه له دې وروسته د کلونو کلونو لپاره د افغان بېوزله وگړو خدمت ته متې نغاړلې وې. هغه د کلونو خدمت په اوږدو کې تر لسو ډېر کلينيکونه د هېواد په ختيځ ولايت ننگرهار کې جوړ کړل. په دې کلينيکونو کې د جذام ناروغۍ او نورو ناروغيو درملنه کېده. تر ډېره يې خدمات بېوزله او کډوالو ته ځانگړي شوي وو. ناکامورا په داسې وخت کې په افغانستان کې خدمت کاوه چې خلک له سختې بېوزلۍ او وچکالۍ ځورېدل. ده وليدل چې خلک تر هر څه ډېر خوړو او اوبو ته اړتيا لري. خلکو ان د څښاک اوبه نه لرلې، خو هلته په خوا کې د کونړ سيند گاونډي هېواد ته بهېده. خلکو د خوراک لپاره خواړه نه لرل، خو ځمکې شاړې وې او دښتې سره لمر سېځلې. کاکا مراد دا هر څه وکتل او پر دې پوه شو چې په يو څه زيار د زرگونو خلکو ژوند بدلېدلی شي. ده پرېکړه وکړه چې اوبو او خوراک ته د خلکو لاسرسی ډېر کړي، ځکه په دې ټوگه ناروغۍ پخپله له منځه تللې. ده په لومړي سر کې د ژورو څاگانو د کيندلو پروژه پيل کړه او په دې ډول يې غوښتل خلک د څښاک اوبو ته لاسرسی پيدا کړي. لسگونه څاگان يې د خپل مرستندويه بنسټ له لارې وکيندل او د څښاک اوبه يې برابرې کړې. د څښاک اوبو لپاره يې شبکې او سيسټمونه جوړ کړل، څو ستونزې راکمې شي او خلک د ژوند له دې مهم عنصر څخه برخمن شي. ناکامورا هغه مهال وويل، د اوبو د يوې شبکې جوړول، تر سلو ډاکټرانو ښه ده.

ناکامورا د اوبو رسونو د شبکو پر جوړولو کار پيل کړ. ده د ننگرهار په بېلو ولسواليو کې د خلکو لپاره د خير ښېگڼې کارونه پيل کړل. د مرواريد په نوم د اوبو رسولو شبکه يې پيل کړه. په همدې پروژه کې يې د اوبو اته داسې شبکې جوړې کړې، چې زرگونه هکټاره ځمکه يې خړوبوله. د ۲۱مې پېړۍ په لومړنيو کلونو کې يې د ننگرهار کروندگرو ته دا زمينه برابره کړه چې وچې ځمکې خړوبې او زرغونې کړي. داسې سيمه يې پر شنه او زرغون بڼ بدله کړه چې يو وخت وچه دښته او سپېرې دوړې وې. د اوبو يوه شبکه يې ۲۴ کيلومتره اوږدوالی او ۱۱ متر سور لري. د مرواريد شبکه ۱٦ زره هکټاره ځمکه خړوبولی شي. د ډاکټر ناکامورا تر نظر لاندې غير دولتي بنسټ تېر کال هم يوه هوکړه لاسليک کړه، چې له مخې به يې د دغه کانال دويمه برخه هم جوړېږي. پر دې برخه به دوه ميليونه ډالره لگښت راځي چې پلونه، پلچکونه او د اوبو يوه منظمه شبکه به وي. ده غوښتل چې د پروژې په لومړۍ برخه کې د ۱٦ زره هکټاره ځمکې تر زرغونولو وروسته، د هميشه بهار په نوم پروژه تکميل کړي. خو ژوند ورسره ياري ونه کړه. ده يوازې د ځمکو، ناروغانو، کرنې او دې ته ورته مواردو په برخه کې مرسته نه کوله، بلکې د تعليم په برخه کې يې هم همکاري کوله.

ناکامورا يو وخت له يوې جاپانۍ مجلې سره په مرکه کې ويلي، لږ تر لږه ۱٦۰۰ د اوبو څاگان يې کيندلي او لسگونه کلينيکونه يې جوړ کړي، تر څنگ يې د خلکو زرگونو هکټارو ځمکو خړوبولو ته لاره جوړه کړې ده. د افغانستان کاکا مراد له سياست سره کار نه درلود، يوازې په خيريه کارونو کې بوخت و. دی ښه پوهېده چې چېرته ژوند کوي او شاوخوا يې ثومره خطرونه ننگولی شي؛ خو له خپلو کارونو سره يې سخته مينه وه. له خلکو سره يې مينه وه او په کم وخت کې يې پښتو زده کړه. ۳۰ کاله يې د افغانستان د خلکو تر څنگ په مينه، ورورولۍ او اخلاص کې ژوند وکړ. ده غوښتل جگړې له دې هېواده ورکې شي، خلک په امن کې ژوند وکړي او د يو بل تر څنگ د دايمي پرمختگ لپاره لاسونه سره ورکړي.

ناکامورا پر دې باور و، چې د لوږې په موجوديت کې د خلکو درملنه کول بې گټې دي. د ده يوه مهمه خبره ده چې ويل به يې: ((لوږه او تنده په درملو نه ورکېږي)). په همدې فکر کې و چې د بېوزله او دردمنو افغانانو اصلي درد چې فقر او له امکاناتو استفاده نه کول دي، ختم کړي. ځکه خو يې د خپل اصلي مسلک تر څنگ چې طب و، په زراعت او کرکيله کې هم فعاليتونه پيل کړل. ده غوښتل چې خلک په خېټه ماړه شي، اقتصاد يې ښه شي او په دې توگه ناروغۍ او سل ستونزې نورې پخپله ختمېدلی شي. ناکامورا په داسې يوه هېواد کې د مرستې، مينې او همدردۍ زړې کرل چې جگړه او وير پکې تر هر څه مشهور دي. دلته مرگ او جگړه د انسانانو د ورځني ژوند برخه دي، خو کاکا مراد غوښتل دا دود نور بدل کړي. هغه د جگړې ضد فکر خپراوه او افغانان يې په خپلو کې همکارۍ او مرستې ته رابلل.

ناکامورا غوښتل په راتلونکو کلونو کې نږدې ٦۵۰ زره کسان په سوکالۍ، زرغونتيا او امن کې ژوند وکړي او په ښايسته چاپېريال کې و اوسېږي. د نوموړي خدمات په افغانستان غونډې هېواد کې د ستايلو دي او په دومره اسانه يې له خدماتو او ژونده نه شو تېرېدلی. کاکا مراد له سختو لارو تېرېده، په اوبو کې د ډوبېدو خطر يې په ځان ومانه، د جگړو او گوليو په منځ کې يې د خلکو مرستې ته ځان رساوه، هر گام ورته له خطره ډک و، تر څنگ يې کولی شوای په خپل هېواد کې سوکاله او ارام ژوند ولري، خو ده د افغانانو مرسته تر هر څه مهمه بلله. ده به ويل که په افغانستان کې مړ شي، خوشاله به وي. افغانستان ورته گران و او غوښتل يې دغه هېواد د تل لپاره له سوکالۍ او سولې برخمن شي.

مخکې مو هم وويل چې کاکا مراد طب لوستی و. له افغان کډوالو سره يې په پېښور کې کار او مرسته پيل کړل. بيا له افغانانو سره مينې جلال اباد ته راوست. دلته يې هم په همکاريو او کار پيل وکړ. خو په ۲۰۰۰ ز کال کې وچکالۍ او د خلکو سختې بېوزلۍ د ده ژوند هم بدل کړ. ده پرېکړه وکړه چې د طب تر څنگ د کرنې او زراعت په برخه کې هم له خلکو سره مرسته او همکاري وکړي. هره ورځ لسگونه ماشومان د وچکالۍ او خوارځواکۍ له امله وژل کېدل. ناکامورا وايي، دې مسئلې سخت ځوراوه. د وچکالۍ له امله د ناروغانو کچه لوړه شوه. زه د هغو پېښو شاهد وم چې کېدای شوای کلي او باندې يې ختمې کړې وای.

دی پخپله يوه مرکه کې وايي، هېڅ وخت يې د طبابت له کاره لاس پر سر شوی نه دی. خو پر دې باور دی چې طبابت خپل حد او مرز لري. دی وايي، هلته چې خلک د څښاک او خوراک لپاره څه نه لري، درمل او درملنه څه مانا. اوبه چې پاکې نه وي، نو ډاکټر او درملتون به تر څو خلکو ته دوا ورکوي. دی وايي، له همدې امله يې پرېکړه وکړه او څو څو ځله يې جاپان ته سفر وکړ. له توکيو يې د خلکو د درملنې لپاره مرستې راوړې. د ځمکو د زرغونولو او ابادولو لپاره يې څو ځله له مرستندويه موسسو سره خبرې وکړې، توکيو ته لاړ او د جاپان حکومت مرستې يې جذب کړې.

ناکامورا د اوبو د شبکو تر جوړولو وروسته، دې ته پام وکړ چې د خلکو سيمه ييز صنعت او کاروبار چې د گوړې توليد و، هغه ته هم تر يوه حده کار وکړي. همدا چې ځمکې زرغونې شوې، خلکو د نيشکر په کرلو لاس پورې کړ او د گوړې توليد هم ډېر شو. د غواگانو د ساتلو فارمونه يې جوړ کړل او د محصولاتو توليد يې ډېر کړ. د ميوو او سبزيو بازار هم تود شو. تتسو ناکامورا ورو ورو په ننگرهار کې د خلکو د خوښې وړ کس شو. هغه هم له افغاني فرهنگ سره مينه پيدا کړه. پښتو يې زده کړه. د پښتنو جامې به يې اغوستې. له خلکو سره يې د دوی په ژبه خبرې کولې. د خلکو په منځ کې يې محبوبيت د دې سبب شو چې له مينې د ناکامورا پر ځای کاکا مراد ورته ووايي.

ناکامورا ته د فعاليت او ژوند پر مهال ډېر گواښونه شوي وو، خو هغه له خپله کاره په شا نه شو. يو ۳۱ کلن ملگری يې کازويا ايتوی په ۱۳۸۷لمريز کال کې ووژل شو. هغه هم د روغتيا او زراعت په برخه کې له ناکامورا سره کار کاوه. دی زړور و او په پوره مينه يې له گواښونو سره سره خپل کار ته ادامه ورکوله. په ۱۳۸۲ لمريز کال کې يې د غوره خدماتو د تر سره کولو له امله د (رامون مگساسای) جايزه وگټله. دا يوه اسيايي جايزه ده چې ارمان پاله او عمل پاله خلکو ته ورکول کېږي او د نوبل د جايزې هومره ارزښت لري. په ۱۳۹۲ لمريز کال کې په خپل ښار کې د بې بديله خدماتو تر سره کوونکی وبلل شو. دی په جاپان کې ۲۴م کس دی چې دغه لقب گټي او د فوکووکا مشهوره جايزه په خپل نوم کوي. په همدې کال کې د کيکو چي کان جايزه هم گټي. دا جايزه تر ډېره ليکوالانو او د هنر خاوندانو ته ورکول کېږي. له همدې يې درې کاله وروسته د چين حکومت يو لوړ او مهم نښان خپل کړ. دا نښان (د لمر ختل) نومېږي. دا نښان د جاپاني امپراطورانو له لوري جوړ شوی دی. هر کال هغه چا ته ورکول کېږي چې د چاپېريال ساتنې او ژوند په ښه والي کې يې عملي او رغنده فعاليتونه تر سره کړي وي.

ناکامورا هغه غږ چې د ابادۍ لپاره پورته شوی و چوپ شو. په ۷۳ کلنۍ کې ناپېژانده وسله والو دغه جاپاني الاصله افغان ډاکټر د جلال اباد ښار په زړه کې وويشت. نوموړي د افغانستان لپاره ارمانونه لرل. ده په يوه مرکه کې ويلي وو، خوشاله به وي که په افغانستان کې مړ شي. دا ارمان يې پوره شو؛ خو د ابادۍ ارمانونه يې نيمگړې پاتې شول. د ده تر مړينې وروسته د هېواد په گوټ گوټ کې هر افغان د وير په ټغر ناست و. هر چا ساندې ويلې او د هغه وژل يې له بشريت سره جفا بلله. د جاپان حکومت، افغان حکومت، ملگرو ملتونو، امريکا او لسگونو نړيوالو او ملي بنسټونو د هغه پر مرگ غبرگون وښود. ولسمشر غني او لسگونو لوړپوړو افغان چارواکو يې د جنازې په ځانگړو مراسمو کې برخه واخيسته. تر هوايي ډگره يې د ده جنازه بدرگه کړه. دی يې يو بې بديله اتل وباله او د افغانستان لپاره يې د هغه خدمات نه هېرېدونکي او تلپاتې وبلل.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,٦۰ |
| € | ۸٦,۷۰ |
| Rp. | ۵۰۱ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۲۰ |
| £ | ۱۰۲,۵۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# بیل ګېټس څنګه د رهبرۍ پر اسطوره بدل شو؟

ژباړه: امان الله «حنیفي»



دا پوښتنه چې ایا رهبري یوه ذاتي وړتیا ده او که کسبي، له څو لسیزو را پدېخوا بې ځوابه پاتې شوې ده او هر کله چې یو نوی رهبر د عمل میدان ته راځي، همدا پوښتنه بیا د خلکو په خولو ښکته پورته کېږي. د بیل ګېټس را څرګندېدل دوباره د دې پوښتنې د پوښتلو لامل شول. هېڅوک نه شي کولای چې په قطعي ډول ووایي چې هغه ان له اوله دنیا ته رهبر راغلی و، خو دې هغه عمل او کار دا ښیي چې څنګه هغه د نړۍ د سوداګرو په منځ کې د ښې رهبرۍ پر اسطوره بدل شو. هماغسې لکه چې د یو خوراک د برابرولو لپاره څو شیانو ته ضرورت وي، څو یې خوند ښه برابر شي، هماغسې د یو ښه رهبر پاتې کېدو لپاره هم ځینو ځانګړو وړتیاوو ته اړتیا شته چې بیا همدا ځانګړې وړتیاوې د هغه د ښه ځلېدو لامل کېږي. بیل ګېټس هم له دې ډلې استثنا نه دی. هغه د نړۍ په سطحه له شتمنو او پېژندل شو کسانو څخه دی. هغه د ټولې امریکا په سطحه څو جایزې ګټلې دي. ګېټس په امریکا کې خلک د یو ښه ملګري په حیث پېژني او د هغه په اړه هېڅ بد نظر نه لري. موږ په همدې مقاله کې د هغه ځینې هغه ځانګړنې لولو، چې هغه یې د رهبرۍ پر اسطوره بد کړ:

### ۱ـ د خپلو موخو تعقیبول

ګېټس له کمپیوټر سره لېونۍ مینه لرله او خپل ډېر وخت به یې د پروګرامونو په لیکلو تېراوه. که څه هم هغه یو تکړه او لایق زده کوونکی نه و، خو پر دې پوه و چې د هغه څه تعقیبول چې دی ورسره مینه لري، ډېر مهم دي. د ګېټس همدا پرېکړه د کمپیوټر په نړۍ کې د بې ساریو پرمختګونو لامل شوه. له کمپیوټر سره د هغه زیاته مینه د مایکروسافټ شرکت د رامنځ ته کېدو سبب شوه.

که غواړې چې یو کار سر ته ورسوی، له دې چې ایا رښتیا مو هغه کار خوښېږي، په دې اړه ځان ښه باوري کړئ. په هغه شرکت او سازمان کې چې ستاسې نه خوښېږي، هېڅکله د کار کولو زړه مه ښه کوئ. د یو رهبر په حیث نورو ته د پو پلان، ستراتیژۍ او انګېزې ورکول، چې په تاسې کې کوم شور او هیاجان را منځ ته نه کړي، رښتیا چې په داسې یو چاپېریال کې کار کول ستاسې لپاره ډېر سخت دي. که یوازې د پیسو په خاطر کار کوی، دا قضیه بالاخره ستاسې په کړنو او چارچلند کې خپل اغېز ښکاره کوي. هرکله چې هغه کار کوی چې تاسې له زړه ورسره مینه لری، هر ورځ به ترې خوند اخلی، په ښه طبیعت به کارځای ته ځی او ورځ تر بلې به خپلو ټاکلو موخو ته نږدې کېږی.

### ۲- له کاره نه ستړي کېدل

ګېټس پوهېده چې بریا په یوه شپه نه تر لاسه کېږي، هغه باوري و چې موخې او بریا ته رسېدل د کار تر پای ته رسولو وروسته لاسته راځي. د هغه د لاسته راوړلو لپاره باید ډېر کار وشي او ډېر ژر د پایلې تمه ونه شي. ګېټس د هغې مینې او علاقې له مخې چې له خپل کار سره یې درلوده، کلونه کلونه په خپل کور کې د (کودونو) او (پروګرامونو) پر رامنځ ته کولو تېر کړل او بالاخره هغه لاره یې پیدا کړه چې له مخې یې ټوله نړۍ سره وتړل شوه. دې کارونو له هغه څخه ډېر وخت ونیو. یو رښتینی رهبر خپله د عمل ساحې ته راکوزېږي او خپلې متې بډ وهي؛ ځکه هغه پوهېږي چې یوازې په سر کې د ښو ایډیاوو لرل بسنه نه کوي، پر هغوی باید کار وشي. یو رښتینی رهبر تل هڅه کوي چې ایډیاوې یې پر ښې پایلې لاسته راوړونکي کار بدلې شي. ګېټس له هغې وروسته چې مایکروسافټ بریالی شو، شپه او ورځ یې هڅه کوله چې د خپلو مخاطبانو اړتیاوې درک کړي او هڅه یې کوله څو داسې تولیدات بازار ته وړاندې کړي، چې د زده کړې او سوداګرۍ په برخه کې د خلکو ستونزې هوارې کړای شي.

### ۳- پرله پسې هڅه او پرمختګ

ګېټس په هېڅ عنوان هغه کس نه دی چې ننني تر لاسه شوې بریا دې په اسانۍ ومني. هغه خپله وایي: «د بریاوو لاسته راوړلو لپاره د جشن نیول ډېر مهم دي؛ خو له هغه مهم بیا له ماتې خوړلو درس اخیستل دی». ګېټس نور ته وایي: «ستاسې ناخوښ مشتریان، ستاسې لپاره د زده کړې تر ټولو ښه ماخذونه دي». بیل ګېټس په هېڅ صورت دا اجازه چا ته نه ورکوله چې د مایکروسافټ کاري ټیم د له سستو او ټنبلو کسان ډک شي، حتی تر هغه یې هم دا غوښتنه ژوندۍ وه چې شرکت یې د بازار تر ټولو ډېرې ګټې لاسته راوړونکی هم شو.

یو رهبر باید ساکن او بې هڅې او تلاشه نه وي، بلکې خوځنده او پلټونکی وي. ګېټس د رهبرۍ پر اسطوره بدل شو، ځکه هر وخت یې هڅه کړې چې د ودې او پرمختګ په حال کې پاتې شي. هغه پوهېده چې نړۍ هره ورځ د بدلون په حال کې ده او جوخت ورسره د خلکو اړتیاوې او غوښتنې هم تر ډېره بدلون کوي. هغه پوهېده چې مایکروسافټ باید د خپل پوزېشن د ساتلو لپاره هر وخت د بدلون او نوښت په هڅه کې وي.

هماغسې چې ګېټس وایي: «ما هر وخت هغه تغیرات چې په راتلونکو دوو کلونو کې پېښېدل، حد اکثر نیولي او هغه تغیرات چې په راتلونکو لسو کلونو کې راتلل، هغه مې حد اقل نیولي دي. هېڅکله ځان ته دا اجازه مه ورکوئ چې د خپلو کارونو تر فشار لاندې راشی».

### ۴- له نورو سره مرسته

یو رښتینی رهبر له نورو سره مرسته کول، هغوی ته سمه لار ښودل، د هغوی اړتیاوې پوره کول او د ژوند د ډېرو اړخونو په اړه د هغوی پوهول خپله دنده بولي.

ګېټس هر وخت د بشردوستانه کړنو په مقابل کې خپلې پیسې او وخت قرباني کړي دي او د دې قربانۍ ورکولو په بدل کې به ډېر خوشالېده. هغه له دې چې له نورو سره مرسته وکړي، هغوی ته سمه لار وښیي، څو د راتلونکي لپاره ښه رهبران وروزي، له دې به یې ډېر خوند اخیست. د ګېټس او مېرمنې خیریه بنسټ یې په نړۍ کې د ماشومانو او نورو اړو خلکو د اړتیاوو پوره کولو په موخه، په میلیاردونو ډالر لګولي دي. کېدای شي له همدې ځانګړنې د ګېټس د شخصیت په اړه خپله قضاوت وکړی.

# شاهین: له امریکا سره تر هوکړې لس ورځې وروسته بین الافغاني مذاکرات پیل کېږي

په داسې حال کې چې ټاکل شوې وه، وسله وال طالبان به له امریکا سره تر هوکړې وروسته اوربند وکړي، خو اوس ویل کېږي چې عمومي اوربند له بین الافغاني خبرو وروسته کېږي.

طالبانو ته نږدې سرچینو ویلي چې د متحده ایالتونو او طالبانو تر منځ د کېدونکې هوکړې له مخې به دواړې خواوې پر یوه او بل برید نه کوي، خو په دغه دوه اړخیز اوربند کې افغان حکومت او امنیتي ادارې شاملې نه دي.

سرچینو ویلي چې بین الافغاني مذاکرات د امریکا او طالبانو له هوکړې لس ورځې وروسته په ناروې کې کېږي او د همدغو مذاکراتو په پایله کې به عمومي اوربند رامنځ ته کېږي.

د طالبانو د قطر دفتر ویاند سهیل شاهین ویلي، د سولې هوکړه نهایي شوې او په لاسلیک کېدو سره به یې بهرنیو ځواکونو ته د وتلو خوندي لار ورکول کېږي او بین الافغاني مذاکرات به پیلېږي.

شاهین دغه راز ویلي چې له امریکا سره د سولې د نهایي شوې هوکړې یوه یوه کاپي، د قطر، امریکایي لوري او طالبانو په اختیار کې ده.

شاهین ویلي، دوی هیله لري چې دغه هوکړه به ژر لاسلیک شي.

په ورته وخت کې د طالبانو او متحده ایالتونو تر منځ د دوه اړخیز اوربند په اړه په کور د ننه مختلف نظرونه دي.

د سولې په چارو کې د دولت وزارت ویلي، په قطر کې د طالبانو او متحده ایالتونو له مذاکراتو د دوی تمه دا ده چې پر اوربند هوکړه وشي او له حکومت سره مستقیمو خبرو ته لار پرانیزي.

له دې سره هممهاله امریکایي چارواکي هم له طالبانو سره د سولې د هوکړې لاسلیک کېدو ته خوشبین دي.

د امریکا دفاع وزیر مارک ایسپر ویلي، چې افغان جګړه له پوځي لارې نه حل کېږي او که دوی یوې سیاسي هوکړې ته ورسېږي او دا ډاډ تر لاسه کړي، چې افغانستان به نور د تروریستانو پر ځاله نه بدلېږي، خپل سرتېري به له دغه هېواده وباسي.

هغه زیاته کړې: «تاسو د افغانستان یادونه وکړه، موږ هلته اتلس- نولس کاله کېږي چې یو، د پرمختګ یوازینۍ لار سیاسي موافقه ده، که موږ د طالبانو، اوسني افغان حکومت او زموږ تر منځ یوې سیاسي موافقې ته ورسېږو چې یقیني کړي افغانستان نور د تروریستانو لپاره امن ځاله نه ده، دا یو ښه کار دی».

# دانش: افغان حکومت لاهم له فساد سره د مبارزې په برخه کې ناکام دی

د ولسمشرۍ مانۍ دویم مرستیال سرور دانش ویلي، که څه هم په دې وروستیو کې له فساد سره د مبارزې په برخه کې د افغان حکومت هڅې زیاتې شوې، خو حکومت لا هم په دې برخه کې خپل ټاکل شوي هدف ته نه دی رسېدلی.

هغه تېره ورځ له فساد سره د مبارزې نړیوالې ورځې په مناسبت یوې غونډې ته په وینا کې د اطلاعاتو قانون ته لاسرسی، اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون او د حکومت له خوا د حساب ورکولو بهیر رامنځ ته کول، له مدني ټولنو څخه ملاتړ د حکومت د تر سره شویو اقداماتو په توګه یاد کړل.

دانش دغه راز له اداري فساد سره د مبارزې قانون، پر هغه د څار د خپلواک کمېسیون، د فساد پر ضد د ملي ستراتېژۍ رامنځ ته کول او یو لړ نور اقدامات په دغه برخه کې د افغان حکومت له خوا نور تر سره شوي اقدامات وبلل.

خو نوموړي د افغان حکومت له خوا له یادو تر سره شویو اقداماتو سره سره ومنله چې حکومت له اداري فساد سره د مبارزې په برخه کې هدف ته نه دی رسېدلی او په دې برخه کې ناکام دی.

هغه ویلي: «په صراحت سره باید ووایم چې موږ لا خپل ټاکل شوي هدف ته نه یو رسېدلي، ناکامۍ هم لرو، په ټوله کې باید ووایو چې له فساد سره د مبارزې په برخه کې د بنسټ جوړولو او نظام جوړولو په برخه کې ناکامه وو».

په ورته وخت کې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه دفتر یا یوناما هم په یوه اعلامیه کې ویلي، چې د افغانستان له اداري فساد سره د مبارزې عدلي او قضایي مرکز د فساد د مخنیوي په برخه کې لازم کار نه دی کړی.

یوناما ویلي، که څه هم له اداري فساد سره د مبارزې په برخه کې د افغان حکومت د ځینو اقداماتو ملاتړ کوي، خو ټینګار کوي چې په دې برخه کې لا زیات کار ته اړتیا ده.

د یوناما په اعلامیه کې راغلي: «دغه مرکز لا په لویه کچه د فساد په مخنیوي کې اغېزمن کار نه دی کړی. د اداري فساد اړوندو څېړنو په اړه د نیونې او احضار د پام وړ شمېر امرونه او له هېواده بهر د نه وتلو یا ممنوع الخروج حکمونه تر اوسه نه دي عملي شوي او ډېر محکوم شوي د خپلې جزا د حکم د عملي کولو لپاره نه دي نیول شوي».

په دغه اعلامیه کې د ملګرو ملتونو د استازولۍ د مشر تدامیچي یاماموتو له قوله ویل شوي، چې افغان حکومت باید د قوانینو پر عملي کولو او له قانون څخه پر سرغړوونکو باندې تمرکز وکړي.

دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان د بیارغونې لپاره د امریکا د سرمفتېش اداري یا «سیګار» هم د روان میلادي کال په اکتوبر میاشت کې وویل، چې افغان حکومت له فساد سره د مبارزې په برخه کې له ۷٦ معیارونو څخه ۵۷ معیارونه پوره کړي دي.

سیګار ویلي وو چې د پاتې معیارونو د پوره کولو لپاره نورو اقداماتو ته اړتیا ده.

دغې اداري تر دې مخکې ویلي وو چې اداري فساد په افغانستان کې د طالبانو د پیاوړتیا لامل شوی دی.

د یادونې ده چې له دې ټولو سره سره، افغانستان لا هم په نړۍ کې پر اداري فساد د ککړو هېوادونو په ډله کې ځای لري.

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
لیکوالان: اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!


TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0780 600 400, 0786 55 55 92
0786 55 55 93, 0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستۍ برخه، خوست تاور، لومړی پوړ.

سه شنبه د ۱۳۹۸ د لیندۍ ۱۹مه | د ۲۰۱۹ د ډسمبر لسمه | ٤٧٧یمه گڼه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۰ | ۱۵ | ۱۷ | ۱٤ | ۱۹ | ۱٤ |
| ۱ | ۲ | ۵ | ۵ | ۸ | ۵ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۱۹ | لمر ختل ۰۶:۴۸ | ماسپښین ۱۱:٤٦ | مازیگر ۰۲:۲٦ | ماښام ۰٤:٤٤ | ماخوستن ۰٦:۱۳

## نړۍ



# راپورونه: په عراق کې د لاریونوالو تر وژل کېدو وروسته د دغه هېواد په امنیتي سکتور کې بدلونونه راغلي

۳

## روحاني: د امریکا د بندیزونو د مقابلې لپاره مو بدیله طرحه جوړه کړې ده



د ایران ولسمشر حسن روحاني ویلي چې د امریکا د سوداگریزو بندیزونو د مقابلې لپاره یې داسې طرحه جوړه کړې، چې هېواد به یې د تېلو پر عوایدو اتکا راکمه کړي.

نوموړي د دغه هېواد د پارلمان د پرانیستې په مراسمو کې ویلي چې د بودیجې دا طرحه به پر ایران باندې د امریکا د زیاتو فشارونو او بندیزونو پر وړاندې مقاومت وکړي.

هغه ویلي: «زموږ د بودیجې اساس لا هم د امریکا د حد اکثر فشار او بندیز پر وړاندې دی، دا په دې مانا نه ده چې دولت دې نور گامونه پورته نه کړي».

دا په داسې حال کې ده چې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ په ۲۰۱۸ ز کال کې له ایران سره د نړۍ د اټومي قدرتونو له تړونه ووت او پر ایران یې سخت بندیزونه ولگول. د امریکا د دغو بندیزونو یوه لویه برخه د ایران د تېلو پر صادراتو ده چې له هماغه وخته د دغه هېواد اقتصاد مخ پر ځوړ روان دی.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې له ایران سره د شوي اټومي تړون نورو اروپایي غړو هېوادونو بیا اعلان وکړ، چې له ایران سره یې د سوداگرۍ داسې سیستم رامنځ ته کړی چې پر دغه هېواد د امریکا بندیزونه پکې نه نقض کېږي او تهران کولای شي چې د جنس پر جنس په معامله کې پر نورو هېوادونو تېل وپلوري او بېرته یې په بدل کې نور مالونه او توکي را وارد کړي.

## د لبنان لرې کړل شوي لومړي وزیر سعد حریري یوځل بیا صدارت ته ځان نوماند کړی دی



د راپورونو له مخې، د لبنان پخواني لومړي وزیر سعد حریري چې شاوخوا دوې میاشتې وړاندې د پراخو لاریونونو له کبله له خپلې دندې استعفا ته اړ شو، یو ځل بیا ځان د لومړي وزارت څوکۍ ته نوماند کړی دی.

نوموړي وروسته له هغې د نوماندېدو خبر ورکړی چې دې پوست ته پخوانی نوماند سني سوداگر سمیر خطیب له خپلې نوماندۍ تېر شو.

دا په داسې حال کې ده چې د لبنان د سیاسي سیستم له مخې، باید د دغه هېواد لومړی وزیر سني مذهبه وي.

تر دې نږدې دوې میاشتې وړاندې سعد حریري د اکتوبر په ۲۹مه د لبنانیانو د پراخو لاریونونو له کبله اړ شو، چې له خپلې دندې استعفا وکړي.

په لبنان کې خلکو د نوموړي حکومت د بې کارۍ پر ډېرېدو، ناسمو خدماتو او زیات اداري فساد تورن کړ او خبرداری یې ورکړی و چې که نوموړی استعفا ونه کړي، لاریونونو ته به دوام ورکړي.

تر څو ورځنیو لاریونونو او نورو بهرنیو فشارونو وروسته، نوموړی اړ شو چې خپله دنده پرېږدي، خو دا چې حریري به د راتلونکي حکومت لپاره کوم اصلاحات په پام کې ولري که نه، هغه یې په اړه څه نه دي ویلي.

## اداره هوانوردی ملکی:
## شرکت های هوایی باید به مقررات ترافیک میدان هوایی کابل احترام بگذارند




اداره هوانوردی ملکی از شرکت هوایی PIA پاکستانی و تمام شرکت های هوایی خواست تا به مقررات و رهنمودهای کنترول ترافیک هوایی احترام گذاشته و موضوعات تخنیکی و مصئونیتی را جنبه سیاسی ندهند.

در خبرنامه ای که از سوی این اداره به رسانه ها مواصلت ورزیده، آمده است که مطابق به سند ٤٤٤٤ و ضمیمه های شماره ۲ و ۱۱ کنوانسیون شیکاگو و طرزالعمل های کنترول ترافیکی هوایی کشور به منظور حفظ جریان مصئون و سریع ترافیک هوایی، به همه شرکت های هوایی داخلی و خارجی که در میدان هوایی بین المللی حامد کرزی فعالیت می نمایند، هدایت داده شده است تا با متابعت از مقررات و طرزالعمل های خدمات ترافیک هوایی افغانستان و با توجه به حجم ترافیک هوایی در میدان متذکره، تمام پروازهای شان را از رنوی فعال (Runway in Use) که از سوی کنترول تاور میدان هوایی حامد کرزی اعلان می شود، انجام دهند و از درخواست برای پرواز و نشست خلاف جهت به استثنای موارد خاص و اضطراری، جداً خودداری نمایند.

منبع نوشته است که به رغم اعلان این موضوع از سوی بخش کنترول ترافیک هوایی کابل به تمام شرکت های هوایی، دیروز پرواز شماره PIA۲۵۰ شرکت هوایی پاکستانی PIA در میدان هوایی حامد کرزی، درخواست پرواز از جهت مخالف رنوی فعال را نموده بود که با توجه به وضعیت ترافیک هوایی در میدان هوایی کابل و هدایت های صادر شدهٔ قبلی، از شرکت خواسته شد تا از رنوی فعال (رنوی ۲۹) مانند سایر شرکت های هوایی استفاده نماید؛ اما با اصرار شرکت، تنها برای یک روز اجازه برخواست از جهت مخالف رنوی فعال و مورد استفاده داده شد.

## ژوند

## په خاورین لوښي کې د اوبو څښلو گټې



له نن څخه کلونه وړاندې به د اوبو گرمولو، پخلي کولو، اوبو ساتلو او نورو کارونو لپاره د خاورین لوښو استعمال کېده، چې د پوهانو په خبره، انسان ته روغتیایي گټې هم رسوي. لکه څرنگه چې له خاورې څخه بې شمېره معدنیات او ویټامینونه حاصلیږي، دغه ډول انسان کولای شي له خاورو څخه له جوړو شوو لوښو څخه د ویټامینونو او منرالونو گټه واخلي. له دې پرته په پلاستیکي او شیشه‌یي توکو کې داسې کیمیاوي مواد استعمالیږي، چې د انسان روغتیا ته زیان رسوي. په دې هکله ډېرو څېړنو د دې زیانونه ثابت کړي دي. دلته د خاورین لوښي د استعمال گټې وړاندې کوو: د خاورین لوښي په اوبو کې هیڅ ډول کیمیاوي مواد نه موندل کیږي، دغه اوبه په بدن کې ټیسټوسټیرون مناسب ساتي او د هاضمې سیستم پیاوړی ساتي.

زیاتې یخې اوبه څښل د مرۍ یا ستوني غدو ته زیان رسوي، چې د ټوخي او نورو ستونزو لامل کیږي. د دې برعکس، د خاورې لوښي د اوبو تودوخه په یوه حالت ساتي، همدا لامل دی چې په خاورین لوښي کې د اوبو استعمال ستوني ته زیان نه رسوي او بل دا چې په خاورین لوښي کې اوبه په طبیعي ډول یخېږي.

## مشري؛ یانې پر ځان او نورو باور درلودل



هغه ورځ مې یو فلم ولید، د ازادۍ لیکوالان نومېدو. زما لپاره الهام بښونکی و. په سترگو کې مې اوښکې راټولې شوې. د فیلم کتل راته د دې لامل شول، څو غوره او لا ډېر مهربانه و اوسم، کارونه مې تر خپلې وروستۍ کچې لا ښه کړم. هغه څه چې ما له دې فلم څخه زده کړل دا وو چې مشري یانې پر ژوند باندې باور درلودل، پر نورو باور درلودل او پر ځان باور درلودل. په داسې حال کې چې نور درباندې باور نه لري. په فلم کې ماشومان ډېر ناروغ او په ستونزو کې وو. ډېر سخت ژوند یې درلود. زړونه یې سخت شوي وو، خو ښوونکو د دوی اصلي جوهر موندلی و. د ښوونځي مشرانو دوی بې ارزښته گڼلي وو، خو ښوونکي یې دوی ته ارزښت ورکاوه او له دوی سره یې په درناوي چلن کاوه. پر دوی یې باور درلود او هماغه وو چې دوی بدلون وکړ. ما دا پېښه د نړۍ په ډېرو شرکتونو کې لیدلې ده. د خلکو د پرمختگ لامل شئ، خلکو ته درناوی وکړئ او دوی ته الهام بښونکي اوسئ. موږ ډېری وخت د ستایلو، موسکا کولو، له مهربانۍ ډکې جملې ویلو، د یوه اورېدونکي په توگه د غوږ نیولو، صادقانه ستاینې یا یو چا ته د ارزښت ورکولو ځانگړتیا بې گټې بولو، په داسې حال کې چې دغه کوچنې خواص او کړنې د یو چا ژوند بدلولای شي.